# ساختیاتي تنقید: امکانات او مغالطې

**Structural Criticism: Possibilities and Fallacies**

وصاف باسط*

ABSTRACT:

Structuralism looks at literature as a system of signs where meaning is made by putting the signs together in a certain way.. As far as linguistics is concerned, the importance of Saussure's theory of structuralism cannot be denied. But if it is discussed in the context of literary criticism and specifically Pashto literary criticism, the prospects are not so bright. The purpose of this paper is to define structuralist criticism and highlight the possibilities specifically the fallacies associated with it. The focus of this paper is to prove that structural criticism in the predicament of Pashto criticism, instead of being useful, can lead to many problems for many Pashtoon critics.

**Keywords**: structuralism, structuralist criticism, pashto criticism

که له روایتي خبرو ډډه وشي، ښه به وي څکه چي کوم موضوع د مقالې دپاره ټاکل شوی دی هغه بذاتِ خود روایتي نه دی. دلته تر ډېره حده دا هڅه شوې ده چي له موضوع سره تړلې مغالطې تر یو حده ختمې شي او تر یو نتیجې پورې ځان ورسوو. سارتر په خپل کتاب **Existentialism and humanism** کې وائي چې یو فرد چې د کوم څیز انتخاب د ځان د پاره کوي ګویا هغه دا انتخاب د ټول بشریت د پاره کوي. زما مقصد هم دغه دی چې د کومو مغالطو سمونه چې ما د ځان د پاره کول غوښته هغه باید چې فقط زما تر حده پاته نه شي بلکې د ادب د هر قاري د پاره د لاربنودنې سوب وګرځي. تر دې له مخه چې زهٔ د ساختیاتي تنقید په اړه د خپل بحث آغاز وکړم، ضروري ګڼم چې ستاسو و مخ ته یو څو سوالونه او نکتې کښېږدم:

- زموږ تنقیدي نظریه څه ده؟
- ساختیات ولې؟
- د ادب په تفهیم کې ساختیات زموږ مرسته څنګه کولی شي؟

---

* Lecturer of Psychology, Government Degree College, Harnai, Balochistan

- په ژبپوهنه (لسانيات) کې چې کوم ارزښت ساختيات ته حاصل دی هغه په ادب کې هم امکان لري.
- موږ يوه رد شوي نظريه ولې څېړل غواړو؟
- له ساختيات سره تړلي مغالطې؟
- دساختياتي تنقيد: امکانات؟

په پښتو ادب کې د ساختيات په اړه د محمود اياز، قېصر افريدي، نعمت الله صديقي، اجمل ښکلي، سميع الدين ارمان او د نورو ليکوالانو مقالې خپرې شوي دي. ذکر شوي ټول نومونه له دې لامله د يادولو وړ دي چې د ساختيات په موضوع يې ژور بحثونه کړي دي او د نعمت الله صديقي او قېصر افريدي خو بشپړ کتابونه په دې موضوع چاپ دي. خو له دغو مضامينو سره اختلاف کېدای شي. د موضوع د تعارف تر حده زما په نزد د ټولو کار د يادونې وړ دی. دلته د ساختياتو مختصره او اجمالي غونډې خاکه وړاندې کيږي او بيا تفصيلي خبره په ساختياتي تنقيد باندې پر مخ بيايو چې زما د مقالې مرکزي موضوع دی.

ساخت د ساختيات تر ټولو اهم عنصر دی خو د ساخت په اړه په نفسيات کې هم بحثونه شوي دي. په نفسيات کې د **Structuralism** په نامه يو دبستان ؤ چې د نفسيات د مطالعې د پاره ئې د ساختياتي څېړنې مطالبه وکړه. د دې دبستان باني ويليم وونټ ؤ. دۀ په **1879** کې په لېپزګ **Leipzig** کې يوه لېبارټري پرانستله چې د نفسيات اوله لېبارټري وه او نفسيات ئې يوه سائنسي شعبه وګرځوله. ځکه چې موږ تر هغه وخته په ذهن **mind** باندې نه شو پوهېدلی تر څو چې ئې موږ ساخت نه کړو معلوم. دغه خبره دوئ د تجربې په اړه هم کړې ده. يعني نفسيات دې بايد د ذهن د ساخت مطالعه وکړي. خو وروسته دغه دبستان ويليم جېمز ځکه په کلکه رد کړې چې موږ کله هم د ذهن د ساخت معلومولو په نفسيات نه شو پوهېدلی. د نفسيات مطالعه بايد چې د ذهن په وظيفه باندې وي. "يو څيز څۀ دی په ځای يو څيز څنګه کار کوي"دا لاره به په دې زموږ زياته مرسته وکړي. وروسته بيا دغه دبستان هم رد شو خو د دې دبستان ډېر اهم خلګ اوس هم په نفسيات کې د ډېر ارزښت وړ دي. دا خبره هم تر لمر روښانه ده چې د ساخت په ټولو لوازماتو کښې يو اهم جز ژبه ده، او تر ساختيات له مخه د ژبې مطالعه په تاريخي تناظر کې کېدله. و دې ته تاريخي لسانيات هم وئيل کيږي.

تاريخي لسانيات په ژبه کې د شويو تبدیلیانو او تغیراتو مطالعه د تاريخ په رڼا کې کوي. و داسې مطالعې ته به همه زماني (وختي) **Diachronic** مطالعه وئيل کېدۀ. ساختيات د ژبې له دغې مطالعې سره مکمل اختلاف وکړی او د يک زماني مطالعې **Synchronic** تصور ئې وړاندې کړ. چې يوه ژبه اوسمهال په کوم حال کې ده، بايد د دې په نظام باندې بحث وشي. په اسانو ټکو کې به دا ووايم چې دوئ ماضي (تاريخ) رد کړ او په حال باندې ئې پخه اکتفا وکړه.

د ساختيات بحثونه د فردي نانډ دي ساسور د مرګ درې کاله وروسته د دۀ له کتابه **A course in Linguistic Studies** څخه پئيل شو. چې د دۀ شاګردانو مرتب کړی ؤ. دغه کتاب د ساسور هغه نوټسونه **(Notes)** دي کوم چې دۀ و خپلو شاګردانو ته د استاذ په هېڅ ويلي ؤ. ساسور د ژبې روايتي مطالعې ردې کړې. تر ساسور له مخه ژبه و څيزونو ته د نوم ورکولو نظام ؤ. ساختيات و ژبې ته د نښاناتو نظام وويلی. يو نښان دوې برخې لري. اوله برخه ئې دال **Signifier** دی چې د نشان صوتياتي او مادي اړخ دی. دويم اړخ ئې مدلول **Signified** دی چې غير مادي دی او د دال تصور دی.

د نښان په څېر ژبه هم دوه قسمونه لري. يو لانګ **(Langue)** او بل پارول **(Parole)**. لانګ هغه سسټم يا نظام دی چې د پارول توضيح کوي. په اسانو ټکو کې لانګ د ژبې ګرامر دی. دا د ژبې تر شا روان هغه تجريدي نظام دی چې ټوله ژبه ورباندې وئيل کيږي. پارول د ژبې و کارېدۀ ته وائي. مختصراً لانګ نظام دی او پارول د دې نظام استعمال. ناصر عباس نير وائي:

*"لسان(لانگ)اگر زبان کا تجریدی / غیر مادی رخ ہے تو کلام(پارول)اس کا تجسیمی / مادی پہلو ہے۔لسان اجتماعی ہے تو کلام انفرادی۔لسان کو بلا ارادہ حاصل کیا جاتا(مادری زبان کی حد تک)اور کلام ایک ارادی فعل ہے۔لسان زبان کا لاشعور ہے تو کلام شعور،اور جس طرح لاشعور تک براہ راست رسائی نہیں ہو سکتی،اس تک رسائی کا ذریعہ شعور ہے،اسی طرح لسان تک پہنچنے کے لیے کلام کا تجزیہ کیا جاتا ہے*(1).

ناصر عباس نير په ذکر شوې حواله کې و لانګ او پارول ته د فرائيډ ل د لاشعور او شعور سره تشبيهه ورکوي. فرائيډ وائي په لاشعور کې زموږ هغه خواهشات، آرزوګانې، يادونه او ياداشتونه وي چې موږ ئې آشنائي نه لرو يا موږ نه يو ورباندې خبر. لاشعور تر هغه وخته نه څرګندېږي چې د شعور بڼه خپله نه کړي. لاشعور د خوبو يا د فېنټسي **(fantasy)** له لارې هم خپل اظهار کوي خو يوه

خبره خو حتمي ده چې د لاشعور د پاره دا شرط دی چې د شعور تر دائرې به ځان رسوي.

د ساختیاتو نور اصطلاحات هم شته چې د هغو په راوړلو خبره اوږدېږي خو دا ئې هغه اساسي اصطلاحات ؤ چې ذکر ئې ما ضروري وګاڼه. اوس ساختیاتي تنقید ته راځو.

ساختیاتي تنقید و څه ته وائي؟ آیا د دې اطلاق ممکن دی؟ له دې سره تړلي نور ډېر سوالونه شته چې ما مجبوره کوي چې زۀ و دې تنقیدي نظرئې ته د شک په نظر وګورم. بهر حال ناصر عباس نیر وائي:

*"ساختیات اور ساختیاتی تنقید دو مترادف اصطلاحات نہیں ہیں۔ ساختیاتی تنقید ایک نظریہ ہے، کسی بھی دوسرے مثلاً مارکسی یا نفسیاتی تنقیدی نظریے کی طرح، جس کا مخصوص تعقلاتی فریم ورک ہے اور جو ادب کے تخلیقی عمل، ادب کے ثقافتی رشتوں اور ادب کی تفہیم میں قاری کی شرکت سے متعلق خاص تصورات رکھتا ہے، جبکہ ساختیات نہ نظریہ ہے (نظریے کے حقیقی مفہوم میں) اور نہ علم، یعنی ساختیات، مارکسیت یا وجودیت کی طرح نہ فلسفیانہ تھیوری ہے اور نہ طبعیات، بشریات اور نفسیات کی مانند باقاعد علم (Discipline) ہے، بلکہ یہ جانکاری کا ایک خصوصی طریق کار ہے"(2).*

د ذکر شوي پېرائې په شروع کې ناصر عباس نیر دعوه کوي چې ساختیاتي تنقید یوه تنقیدي نظریه ده چې د ادب د تفهیم په اړه د قاري په ګډون خپل اصولونه لري خو بیا وائي چې ساختیات نه خو نظریه ده نه علم دی نه فلسفیانه تهیوري ده. دا فقط د معلوماتو یا د پوهېدلو طریقۀ کار دی. ساختیات په اصل کې د لسانیات اهم موضوع دی چې د ژبې په نظام باندې ئې ژور بحثونه کړي دي او د دغو بحثونو آغاز د ساسور له کتاب څخه شوی دی، چې د دۀ د مړینې وروسته چاپ شو. په ادب باندې هم د دې اطلاق وروسته شوی دی او باقاعده بحثونه له **1960**ء وروسته پیل شوي دي. به ادب باندې د دغه موضوع اطلاق بذات خود ساسور ببخي نه دی کړی. په دې اړه د لېوي سټراس، جېکبسن، کولر او د بارت کار د یادونې وړ دی.

ساختیاتي تنقید د ساختیات د اصطلاحاتوپه رڼا کې په ادب باندې بحث کوي. دغه تنقیدي نظریه د ساسور د لسانیاتي تهیوري نه ماخوذ ده. لکه څنګه چې د ژبې تر شا یو کلي نظام شته چې لانګ ورته وئیل کیږي. دغسې د ادب تر شا هم یو تجریدي نظام دی او د دې پلټنه (چې لا تر اوسه پورې تکمیل ته نه ده

رسېدلي) د ساختياتي تنقيد تر ټولو اهم مقصد او کار دی. دا د ادب تر شا ورک تجريدي نظام به کله پيدا کوي دا په خپل ځای اهم سوال دی. مختصراً دا، لکه څنګه چې د ژبې دننه يو پوشيده او غير مادي نظام شتون لري دغسې د ادب داخلي نظام هم خپل لانګ لري او ټول تحريرونه چې موږ ئې وينو، پارول دي. و دې ته د ادب شعريات يا لانګ وئيل کېږي. د يادونې وړ خبره خو دا ده چې ساختياتي تنقيد د تشريحاتو، معناوو، تعبيراتو او توضيحاتو سره هيڅ تړاؤ نه لري. نعمت الله صديقي وائي:

"د يوه ادبي متن يا پنځونې د مانا تشريح او تعبير سره د دې کره کتنې کار نشته: چې ماناوې دې تعبير او تشريح کړي، ځکه د دوئ په وينا هر لوستونکی خپله خپله مانا لري. دوئ پر مانا نه بلکې د مانا د رغښت او طرز سپړنې کوي، يعني د (څه ويلو) پر ځای (څنګه ويلو) ته لومړيتوب ورکوي"(3).

ناصر عباس نير هم دغسې ليکي:

*"ساختیاتی تنقید کی منزل متن کے معانی نہیں، معانی پیدا کرنے والا نظام ہے۔۔۔(ساختیات) نہ ہی متن کی تشریح، توضیح اور تعبیر کرتی ہے"(4).*

ساختيات چې د ژبې د مطالعې کوم اپروچ لري دغه اپروچ ئې د ادب په اړه هم دی، يعني د ساخت پلټنه. ساختيات په هغو اصولونو پسې ګرځي کوم چې ادب پنځوي. لکه څنګه چې نښان هيڅ معنياني، منطقي يا سائنسي دليل نه لري، ادب هم بې معنا او بې دليله دی. لکه څنګه چې ټولنه او کلتوري کوډز او کنوېنشنز (رسميات) ژبې ته معنا ورکوي يا نښانياتي نظام جوړوي. ادب هم دغسې له اوله موجود دی چې ليکوال فقط د ترتيب ورکولو کار کوي.

*"الفاظ بذاتِ خود بے معنی ہیں بلکہ ان میں زندگی ہی نہیں اس وقت تک جب تک ہم انہیں ایک لسانی نظام میں نہ دیکھ سکیں۔ کوئی ادیب ادب تخلیق نہیں کرتا، ادب ایک مخصوص لسانی سسٹم میں موجود ہوتا ہے اور وہ اپنے آپ کو لکھوا تا رہتا ہے۔ کولمبس امریکہ کو دریافت نہ بھی کرتا تو وہ دریافت ہو جاتا"(5).*

وهاب اشرفي په ذکر شوي پېراګراف کې د ساختيات په اړه په واضح تورو کې وائي چې دا د ادب په تخليق کولو کې د تخليق کار شموليت، رول او اهميت نه مني. ادب او ټول متنونه په ادب کې له اوله شتون لري او اديب فقط هغه تحرير کوي. يعني تخليقات له ثقافتي کنوېنشنز او کوډز څخه مستعار دي.مخته وائي:

"ادیب یا شاعر کی انفرادیت، شخصیت، وجدان، ذوق، التہاب، ادب یا شاعری کے حوالے سے کوئی اہمیت نہیں رکھتی، اس لیے کہ ادیب یا شاعر کسی مخصوص لسانی نظام کا اسیر ہوتا ہے۔ وہ اس سے آگے نہیں نکل سکتا، ادب یا شعر کا غیر ساختیاتی جائزہ غیر سائنٹفک اور غیر معتبر ہے"(6).

یوه خبره خو صفا ده چې د ساختیاتي تنقید مقاصد فقط یو داسې نظام وضع کول دی کوم چې په پس منظر کې روان دی. نه د شاعر او نه د هغه د تجربو اهمیت شته، نه د هغه د جذباتو او احساساتو څه اهمیت دی، نه خو دوئ تجربه مني او نه معنا. بهرحال پارول هغه تحریرونه دي چې دوئ و مخ ته ایښي دي او د پارول په ذریعه د لانګ په تلاش کې دي. له کلونو راسې خو تر اوسه زما په خیال داسې نظام نه دی رابرسېره شوی چې په ښکاره ئې ذکر وشي. له دې نه دا خبره هم ثابتیږي چې ساختیات (د ادب په تناظر کې) یوه فلسفیانه توضیح خو کېدلی شي خو سائنسي هیڅ کله نه، او ادب کله هم سائنس نه شي کېدی ولې چې له ادب سره تړلې دنیا آفاقي ده او هغه نه زمان مني او نه مکان او د هر بندیز د ماتولو استعداد او توفیق په شد و مد سره لري. لساني سائنس هم تر اوسه نه دی اختراع شوی او ساختیات هم د تاریخ په ګرځ کې د یو بې وسه سړي غوندې و تولو تهیوریانو ته ګوري او هیڅ هم نه شي کولی.

د ساختیاتي تنقید په اړه پورتني اقتباسات د متن د تشریح او تعبیر سراسر رد کوي او وائي چې دغه تنقیدي نظریه ښخي له معنا سره سروکار نه لري بلکه ده تحریر شاته هغه نظام لټوي کوم چې ادبي لیکنې زېږوي. په دې اړه موږ د ناصر عباس نیر، نعمت الله صدیقي او د وهاب اشرفي دلائل وویل خو زهٔ غواړم چې د اردو ادب یو بل نامتو لیکوال او نقاد هم وګورو چې دی څهٔ وائي:

"وسیع ساخت یا سیاق Context کا ایک مفہوم تو یہی ہے کہ جز بمقابلہ کل کے ادنی ہوتا ہے۔ یعنی ایک (واحد) فن پارہ تاریخ ادب کے دوسرے اس نوع کے فن پاروں یا ان کے متون یا ادبی اور تہذیبی روایات کے وسیع تر سلسلے کا محض ایک جز ہوتا ہے۔ اس صورت میں واحد فن پارے کی تفہیم بغیر اس کے وسیع تر سیاق کے مکمل نہیں ہو سکتی۔ وسیع ساخت یا سیاق کا دوسرا مفہوم یہ ہے کہ ایک ہی ادیب کی کسی تصنیف کا مطالعہ اس کی دوسری تخلیقات و تصانیف کے وسیع سیاق میں بھی کیا جا سکتا ہے"(7).

پروفیسر عتیق الله د وسیع تر ساخت په تناظر کې و ادب ته کل وائي او یوه فنپاره د کل جز ګڼي او د جز مطالعه د کل په تناظر کې د کولو خبره کوي. دغه

خبره هغه د یو شاعر د یو تصنیف (جز) د ساخت یا سیاق د هغه له نورو تصنیفاتو (کل) سره د کولو خبره هم کوي. د ساختیاتي تنقید په اړه دغه بېله نظریه د پروفېسر عتیق الله اختراع ده. خو دا خبره د هغو خبرو نفي ده کوم چې ناصر عباس نیر او نعمت الله صدیقي کوي.

*"ساختیاتی نقاد یہ دیکھے گا کہ مجموعاً ادبی روایت کی توسیع کے ساتھ ساتھ کہاں اور کس کس طور پر اس نے انحراف کیا ہے"*(8).

دغه دلیل تر دې له مخه د شویو دلیلونو سراسر نفي ښکاري. د متن د تفهیم او تشریح بغیر د روایت توسیع او انحراف به څنګه رابرسېره کېږي زۀ خو نه پوهېږم. ساختیاتي تنقید یو ځای د تاریخ مکمل نفي کوي او بل ځای د متن او د ژبې شاته د ثقافتي کنوېنشنز او کوډز مطالعه کوي کوم چې په بشپړ توګه تاریخي دی. کله چې هم انحراف کېږي نو یو نوی څیز اختراع کېږي او له اختراعاتو او اضافو سره د تنقید دغه نظریه هیڅ سروکار نه لري. دا خبره هم د شویو خبرو نفي ده ولې چې ساختیاتي تنقید له معنا او تشریح سره کار نه لري.

ذکر شوو ټولو نقادانو تر خپله حده د ساختیاتي تنقید توضیح کړې ده. خو ډاکټر نصیب الله سیماب د ساختیاتي تنقید څه داسې معنیاتي تعبیر او توضیح کوي. یا خو ډاکټر صاحب نه دی ورباندې پوی شوی یا بیا ذکر شوي ټول نقادان د نظرِ ثاني اړتیا لري. ډاکټر نصیب الله سیماب د ساختیاتي تنقید تعریف داسې کوي:

"انسان د خپلې مدعا اظهار د ټکو له لارې کوي. دا ټکي د ژبپوهانو نږدې ټول علامتونه دي. دوئ پخپله په خپل ځان کې هیڅ نه دي. کوم څوک چې دا علامتونه کاروي هغه په دې کې معنویت اچوي، دا معنویت هر اړخیز وي. ضروري نۀ ده چې یو ټکی دې یوه معنا ولري او دا دې د تل لپاره وي یا د یوه ټکي حقیقي معنا په مجازي معنا بدلېدای. د لسانیاتو د مطالعې څخه ښکاره کېږي چې ټکی د خپل پس منظر، پېش منظر، ثقافت، ټولنې او نورو سره خپل مفهوم بدلوي خو شکل برقرار ساتي. په ادب کې داسې مطالعې ته ساختیاتي کره کتنه وئیل کېږي"(9).

له دې پورتني وضاحت څخه څومره استفاده کېدای شي؟ زۀ خو نه پوهېږم چې دا د کوم ساختیاتي تنقید تعریف او تعبیر دی. بهر حال و یوې نتیجې ته خو

زۀ ورسېدم چې په ادب کې قارئین کنفیوز **(Confuse)** کول ښځي اسانه وظیفه ده او پوهول یو ډېر ګران کار... د اردو او د پښتو د مطالعې وروسته زۀ د انګرېزي ادب و خوا ته هم ستاسو توجه غواړم. د انګرېزي ادب نامتو لیکوال ټېري اېګلټن په خپل مضمون **Structuralism and Semiotics** کې په ساختیات او ساختیاتي تنقید باندې ډېر ژور بحثونه کړي دي. ټېري ایګلټن لیکي:

"I have said that structuralism contained the seeds of a social and historical theory of meaning, but they were not, on the whole, able to sprout"(10).

ټېري ایګلټن وائي د معنا کوم ټولنیز او تاریخي تخمونه چې ساختیات کرلي وو په مجموعي لحاظ هغه باثمره ثابت نه شو.

"Structuralism, in a word, was hair-raisingly unhistorical: the laws of the mind it claimed to isolate - parallelisms, oppositions, inversions and the rest moved at a level of generality quite remote from the concrete differences of human history. From this Olympian height, all minds looked pretty much alike. Having characterized the underlying rule-systems of a literary text, all the structuralist could do was sit back and wonder what to do next.(11).

د ساختیات په اړه دا پیراګراف که چېرې اهم دی نو مضحکه خېز هم دی. ولې چې اېګلټن وائي، که چېرې موږ له یوې خاص بلندۍ د ساختیات و ټاکلي اصولونو ته وګورو نو ټول شیان یو شان ښکاري خو اوس ټول (ساختیاتي مفکرین/نقادان) حیران ناست دي چې مخته به څه کوو. بهر حال دا خو کېدی نه شي چې د ادب دې څه مقصد نه وي او ټول ادب دې بې معنا وي یا هر ادیب دې په یوه صف کې ولاړ وي. که چېرې ساختیات په افتراقاتو باندې ولاړ دی نو باید د افتراقاتو په دې نظام کې د "ښه ادیب" او د "کمزوري ادیب" افتراقي نښان هم شامل شي. په ثقافتي رسمیات او کوډونو کې هم د ښه او بد تصور موجود دی. که له کره کتنې د تعینِ قدر معامله ووزي نو د تنقید وظیفه به له سره پاته نه شي. د معاصر تنقیدي نظریاتو تتبع که چېرې ضروري ده نو تعین قدر ئې هم ضروري دی. که چېرې دا دواړه خنګ په خنګ او اوږه په اوږه روان شي نو زما په خیال په دې کې به د ادب ګټه وي ولې چې یو خوا به موږ د متن په معنیاتي نظام خبرې پئیل کړو (دلته ساختیات شامل نه دی) او و بلې خوا ته به د دې تعین هم

وکړو چې کوم اديب په دې دومره لوئ هجوم کې چرته ولاړ دی او څومره مختلف، منفرد او ځانګړی دی؟

داسې نه دی چې د تنقيد په دې مکتب باندې فقط زما نيوکې او تحفظات دي. که چېرې موږ د ساختياتي تنقيد په اړه د انګرېزي لټرېچر او نور مباحث ولولو نو داسې نورې ډېرې نکتې تر لاسه کولی شو چې د دې تنقيدي مکتب په اړه په ګوته کيږي. يوه خبره چې غالباً هره تحقيقي مقاله او کتاب وړاندې **(Quote)** کړې ده هغه دا ده چې:

"Structuralism often has a negative connotation at present, as early as the 1960s, ducrot noted that linguists were hesitant to qualify their work as structuralist"(12).

ويليمز او کلاس د خپلې تحقيقي مطالعې په ماحصل کې دا خبره کړې ده چې په اوسني وخت کې د ساختيات کردار فعاله نه دی لکه څنګه چې مخکې ؤ (دا خبرې د **Outdated** په معنا شوي دي). د ډکروټ حواله ئې هم راخيستې او وائي چې هغه لاپخوا دا محسوساوۀ چې ژبپوهان د ساختياتي نقاد يا څېړونکي په حېث د خپل کار په اړه خاص مطمئن نه ؤ بلکه د تردد ښکار ؤ. کېتهرين بېلسي په خپل کتاب **Poststructuralism: A Very Short Introduction** کې وائي:

"Structuralism was extremely seductive: it was speculative and far-reaching; it promised a key to all human practices; it offered mastery of the single principle that would hold together the apparently disparate features of all cultures. But it treated difference as no more than superficial, and difference was the key term in Saussure's revolutionary theory of language"(13).

ساختيات يو ګمراه کوونکی موضوع دی ولې چې دا د يوه اصول په بنياد د کلتور د متنوع توکيو وضاحت کول غواړي. خو د افتراقاتو نظام ئې ښېخي سطحي او په سرسري توګه عملي شوی دی. ساختيات ئې د ناممکن سره هم تعبير کړی دی ولې چې دلته د **far-reaching** خبره د ناممکن مترادف ده. ساختياتي تنقيد د نقاد دپاره د يوې داسې لارې انتخاب کړی دی چې منزل ئې ښېخي شته نه. په دغه کتاب کې د بارت په اړه داسې وائي:

"How ironic, then, Barthes goes on, that Saussure's attribution of meaning to difference should lead in the end to the equalization of all texts 'under the scrutiny of an in-different science' (in-

different because undifferentiating, but also indifferent because in the end apathetic, bored)".(14).

کېتهرين وائي دا ببخي عجبه نه ده چې ساختيات چې د افتراقاتو په نظام ولاړ دی بارت ئي داسې عملي کوي چې نتيجه ئې د ټولو تحريرونو په يکسانيت باندې پای ته رسي. د دې مطلب دا دی چې د ساختياتي تنقيد طريقه که څېرې کاميابه کيږي نو آخري نتيجه به ئې د ټولو تحريرونو په برابري باندې تمامه شي. نور وائي:

"The grand claims of structuralism appear absurd. Once you have found the single determining structure, there is nothing to choose between the universe and a bean. The microcosm simply becomes an ill....... but then what? What can further investigation discover? Only endless repetition. The big questions have been answered in advance"(15).

په آخر کې خو د ساختيات ادعا هم لغو بولي او وائي که څېرې هغه نظام کوم چې دوئ وضع کول غواړي يا ئې په لټون کې دي، د هغه نه پس به له دوئ سره ببخي څه پاتې نه شي. او ساختيات به محض يو تکراري غوندې موضوع په څېر پاتې وي. خبره دا ده چې داسې نورې ډېرې نيوکې د ساختيات په اړه زۀ وړاندې کولې شم خو نه غواړم چې دا بحث دې ببخي اوږد شي. بيا هم د دغو اقتباساتو شامليدۀ په خپل ځای اهم او ضروري وۀ.

**پایله**: ساختياتي ناقدين په ادب باندې د لسانيات اطلاق کول غواړي يا د ادب لسانياتي جائزه اخيستل غواړي او دا خبره غالباً هر ساختياتي مفکر کړې ده. لاکن ساختيات يو داسې پېچلی او ګنجلک مکتب دی، که څېرې د ټولو اصولونو پابندي او اطلاق يو نقاد وکړي نو به ټول عمر د لاتنگ په لټون کې تېر کړي او نتيجه به ئې ببخي را و نه وځي. که څېرې نقاد وغواړي چې د ادب مطالعه دې د ثقافتي کنوېنشنز او کوډز په تناظر کې وکړي نو ټول عمر به د يو داسې څيز مطالعه کوي په کوم باندې چې دی له مخکې نه خبر وي.

ما د مضمون په اول سر کې يو څو سوالونه او نکتې ليکلې وې چې نيمی پکې ځواب شوي دي. اول سوال خو دا ؤ چې زموږ تنقيدي نظريه څه ده (چې جواب ئې په سر کې ما ويلی دی). دويم سوال ؤ چې "ساختيات ولې" د دې ځواب زما ټوله مقاله ده. که څېرې قاري (نقاد) ته د دې وروسته دا تنقيدي نظريه د ادب

په ګټه تمامه معلومیږي نو هغه دې ضرور ساختیاتي تنقید وکړي خو زۀ یوه بله خبره هم کوم. هغه دا چې په ډېر کم وخت کې په پښتو ادب کې په ساختیات باندې دوه کتابونه چاپ شو. یو د نعمت الله صدیقي او دویم د قیصر افریدي. د دوئ کار او زیار په خپل ځای د اهمیت وړ دی خو زۀ په دې نه شوم پوه چې په ګڼ شمېر نظریو او تحریکونو کې د ساختیات انتخاب ولې وشو؟ آیا دا تر ټولو اهمه نظریه ده یا دا و پښتو تنقید ته تر نورو نظریو زیاته ګټه رسولی شي؟ زۀ د دې سوال تر ځوابه و نه رسېدم. زما درېیم سوال دا ؤ چې "ساختیات د ادب په تفهیم کې زموږ مرسته څنګه کولی شي؟ په دې اړه به زۀ دا ووایم چې ساختیاتي تنقید له تشریح سره هیڅ سروکار نه لري او نه د معنا او تعبیر سره. دا فقط د هغه نشانیاتي نظام په لټون پسې ده کوم چې د ژبې په څېر د ادب په ژورتیاو او داخل کې کارفرما دی. خو زما زړۀ اوس هم دا خبره نه مني چې موږ به داسې نظام ولټوو چې د ادب سائنس موږ ته په ګوته کړي. او دا هم وئیل غواړم چې ادب مشین نه دی او نه د ادب تکنیکي مطالعه امکان لري. که چېرې ادب مشین وای نو بیا به احساسات او جذبات هم نه وای. که چېرې ادب ثقافتي کوډز او کنوینشز وای نو موږ به له بهرنیو ادبیاتو حظ او مسرت نه محسوساوۀ. جذبې او احساسات آفاقي وي او هغه نه جمود لري او نه حدود. ساختیاتي تنقیدي نظرئې ته زۀ له کارِ بېکار سره تشبیه ورکوم ولې چې دا نه خو نتیجه لري او نه امکانات. او تر ټولو لویه خامي ئې دا ده چې دا تنقیدي نظریه پخپله هم په زندان راګېره ده او نقاد هم له ځانه سره بندي کول غواړي.

ساسور د جدید لسانیات باني شمېرل کیږي. ولې چې دۀ د ژبې د تاریخي لسانیاتي مطالعو رد وکړ او د دغه مطالعه ئې له یو نوي اړخه وکړله کوم چې د لسانیات په ساحه کې اساسي او انقلابي کار ؤ. خو زما په نزد ادب او لسانیات هیڅ کله په یوه حساب او کتاب نه شي تلل کېدلی ولې چې ادب او لسانیات په کلي توګه له یو بل جدا جدا څانګې دي.

د آخري سوالونو ځواب زما په مقالې کې د هغو قارئینو له لپاره په واضح توګه موجود دی کوم چې ئې په ګوته کول غواړي خو د هغوئ د پاره نهام دي چې د ساختیاتي تنقید په افادیت پسې ګرځي. ساختیات چې د پسِ ساختیات وروسته رد شوی دی له هغه نور امکانات ساتل به عبث وي. زۀ بېخي له نویو

رجحاناتو نه انکار نه کوم. دغه تنقیدي نظرئې د ادب مطالعه په نوي اپروچ باندې کول غواړي او د متعارف کېدو حق هم لري. خو د ساختیات تر حده زۀ بېخي دا امکان نه وینم چې دا به د ادب په ګټه تمام شي.

***

# حوالې

(1)ناصر عباس،ڈاکٹر،ساختیات(ایک تعارف منتخب اردو مضامین)،اسلام آباد،پورب اکادمی،۲۰۱۱،ص۲۱۷۔

(2)ایضاً،ص۱۱۱۔

(3) صديقي، نعمت الله، د متن سپړنې هنر: ادبي رغښتواله-سټرکچرلزم، جلال آباد، کلاسیک خپروندویه ټولنه، ۲۰۲۰، ص ۸۶.

(4)ناصر عباس،ڈاکٹر،ساختیات(ایک تعارف منتخب اردو مضامین)،ص۱۲۹۔

(5)اشرفی،وہاب،مابعد جدیدیت:مضمرات و ممکنات،اسلام آباد،پورب اکیڈمی،۲۰۰۷،ص۱۵۔

(6)ایضاً،ص۱۶-۱۵۔

(7) عتیق الله، پروفیسر، تنقید کی جمالیات،(مرتب)عتیق الله،پروفیسر، لاهور، فکشن هاؤس، ۲۰۱۸، ص ۳۷.

(8) ایضاً، ص ۳۷.

(9) سیماب نصیب الله، ډاکټر، د کره کتنې اصطلاحات، کوټه، پښتو اکېډمي، ۲۰۱۹، ص ۲۲۳-۲۲۵.

(10)Eagleton, Terry. 2003. Literary Theory. 4th ed. Malden, MA: Blackwell Pub, P.94

(11) Ibid.P 95-96.

(12)Willems Dominique, klaas Willems, Structuralism, P.31, DOI10.1075/hop.10.str1

(13)Belsey Catherine, Poststructuralism; a very short introduction, New York, oxford university press, 2002, P. 42

(14) Ibid, P. 44

(15) Ibid, P. 43